# عودت راستنیدنه
اونۍ هفته نامه

د افغانستان اسلامي امارت
د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت
مالي او اداري معینیت
د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست
د اطلاعاتو آمریت

۹۹ یمه ګڼه،۱۴۰۵ وري: لومړی مخ/ شماره ۹۸ حمل ۱۴۰۵:صفحه اول




## مولوي عبدالکبیر: د هېواد له ځمکنۍ بشپړتیا او ملي حاکمیت څخه دفاع کوو

د کوچني اختر لمونځ په سپیدار ماڼۍ د کډوالو او راستنېدونکو چارو د وزیر مولوي عبدالکبیر په حضور کې ترسره شو.
په دې مراسمو کې د بهرنیو چارو وزیر امیرخان متقي، د اسلامي امارت د بېلابېلو ادارو مسوولینو، په کابل کې د دوستو هېوادونو مېشتو سفیرانو او ډیپلوماتانو، علماوو او مجاهدینو ګډون کړی و.
د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزیر محترم مولوي عبدالکبیر، چې د اختر د مبارکۍ ترڅنګ په خپله وینا کې وویل، سږنی اختر په داسې حال کې نمانځل کېږي چې سیمه او نړۍ له بېلابېلو تحولاتو او تاوتریخوالي سره مخ ده، چې دوام یې سیمې او نړۍ ثبات ته جدي ګواښ بلل کېږي.
نوموړي ټینګار وکړ، چې د اسلامي نظام پیاوړتیا، د شریعت تطبیق، عدالت او ملي یووالی د اسلامي امارت له اساسي لومړیتوبونو څخه دي.
نوموړي زیاته کړه، چې د سترو سیمه‌ییزو پروژو پلي کول، د سوداګرۍ پراختیا، د ترانزیټي دهلېزونو فعالول، د طبیعي سرچینو شفاف مدیریت، د کرنې وده او د زیربناوو پراختیا د حکومت د پراختیایي پلانونو مهمې برخې دي. محترم مولوي عبدالکبیر زیاته کړه، چې افغانستان کولای شي د جنوبي او منځنۍ اسیا ترمنځ د اقتصادي همکاریو یو مهم پل وګرځي.
د کډوالو او راستنېدونکیو چارو وزیر وویل، چې د افغانستان سیاست اقتصادمحوره، متوازن او د ښه ګاونډیتوب پر اصولو ولاړ دی او کابل غواړي له ټولو هېوادونو سره د متقابل درناوي او ګډو ګټو پر بنسټ اړیکې ولري.
خو هغه په ټینګار سره وویل، چې هېڅ ته به اجازه ورنکړل شي چې د افغانستان پر ملي حاکمیت تېری وکړي یا د هېواد په کورنیو چارو کې لاسوهنه وکړي. نوموړي د پاکستان له لوري وروستي بریدونه وغندل او ویې ویل چې دا کړنې د نړۍ والو او اسلامي اصولو خلاف دي.
محترم مولوي عبدالکبیر وویل، چې جګړه د دواړو هېوادونو د ولسونو په ګټه نه ده او غوښتنه یې وکړه، چې د پاکستان علماء او ولسونه باید اجازه ورنه کړي تر څو د دواړو مسلمانو ملتونو اړیکې د بهرنیو قدرتونو د غوښتنو قرباني شي.
نوموړي له هغو هېوادونو څخه مننه وکړه چې د افغانستان او پاکستان ترمنځ د خبرو اترو او ډیپلوماتیک حل لپاره یې هڅې کړې دي، او زیاته یې کړه چې افغانستان د خبرو اترو دروازې پرانستې ساتلي، خو د هر ډول یرغل پر وړاندې د ځواب ویلو لپاره چمتو دي او افغان ځواکونه به د خپل هېواد له ملي حاکمیت او ځمکنۍ بشپړتیا څخه دفاع وکړي.
د کډوالو او راستنېدونکیو چار وزیر همدارنګه وویل، چې افغانستان دا مهال د هغو میلیونونو راستنېدونکو کوربه دی چې له ایران، پاکستان او نورو هېوادونو څخه هېواد ته راستانه شوي دي.
هغه د سیمې وروستیو حالاتو ته په اشارې سره وویل، چې په فارس خلیج کې تاوتریخوالی د اندېښنې وړ دی او پر ایران د امریکا او اسراییلو بریدونه یې وغندل. نوموړي، له اسلامي هېوادونو وغوښتل چې د دې ډول پېښو پر وړاندې بې تفاوته پاتې نشي.



## وزیر امور مهاجرین وعودت کننده گان با معاون بخش کمک های بشردوستانه هیات معاونت سازمان ملل متحد(یوناما) در افغانستان دیدار تودیعی کرد

محترم مولوی عبدالکبیر وزیرامور مهاجرین وعودت کننده گان به مناسبت پایان ماموریت آقای آندریکا راتویته معاون بخش کمک های بشردوستانه هیات معاونت سازمان ملل متحد (یوناما) دیدار تودیعی کرد.
در این دیدار داکتر تاج الدین ایوال رییس صندوق حمایت از کودکان سازمان ملل متحد (UNICEF) در افغانستان عرفات جمال رییس کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهنده گان(UNHCR) و خانم میهیونگ رییس سازمان بین المللی مهاجرت(IOM) در افغانستان نیز حضور داشتند.
آندریکا راتویته از همکاری امارت اسلامی در طول ماموریتش در افغانستان ابراز خوشحالی کرده از تلاش های ادارات مسئول افغانستان در ارائه خدمات به عودت کننده گان و بیجاشده گان قدردانی کرده افزود: سازمان ملل متحد، در نتیجه پیشنهاد و اصرار امارت اسلامی، بیشتر کمک های خود را به پروژه های توسعه ای درازمدت اختصاص داده است.
وی گفت: با وجود درگیری ها در جهان، یوناما توانسته بودجه قابل توجهی برای کمک‌های بشردوستانه به افغانستان جذب کند و تلاش‌ها در این زمینه ادامه خواهد یافت.
ایشان در ادامه گفتگو خاطرنشان کرد که تلفات غیرنظامیان و بیجاشده گی مردم به دلیل نبردها در مرز با پاکستان، موضوعی نگران‌کننده و دلخراش است.
آندریکا راتویته توضیح داد که تأسیسات سازمان بین‌المللی مهاجرت نیز در حملات از سمت پاکستان آسیب دیده و مهمات منفجر نشده در اردوگاه‌های ( کمپ ) مهاجرین نزدیک مرز نیاز به مین پاکی دارند.
وی همچنین خاطرنشان کرد که ادارات امدادرسانی سازمان ملل متحد از آن زمان کمک‌رسانی به بیجاشده گان را آغاز کرده و انتظار می‌رود به زودی آن را تکمیل کند.
در پایان این دیدار، آقای آندریکا راتویته یادآوری کرد که به همکاری و کمک همه جانبه به مردم افغانستان ادامه خواهد داد.
محترم مولوی عبدالکبیر از معاون هماهنگ کننده کمک‌های بشردوستانه هیات معاونت سازمان ملل متحد (یوناما) و هیئت همراه ایشان استقبال کرده و از تلاش‌ها و ماموریت آقای راتویته در زمینه بشردوستانه قدردانی کرده کمک‌های سازمان ملل متحد به افغان‌ها را مهم خوانده خاطرنشان کرد: امارت اسلامی بخش بزرگی از امکانات خود را برای حمایت از نیازمندان و بازگشت‌کننده گان اختصاص داده است.
محترم وزیر امور مهاجرین و عودت کننده گان توضیح داد: وزارت امور مهاجرین و عودت‌کنندگان به بیجاشده گان ناشی از بمباران گلوله‌باران‌های رژیم پاکستان در شش ولایت مرزی کمک توزیع کرده و به سه ولایت باقیمانده نیز کمک رسانی نموده است.
محترم مولوی عبدالکبیر پیشنهادات ارائه شده توسط نمایندگان سازمان ملل را مهم دانسته و بر کار مشترک تأکید کرد و همچنین برای آقای آندریکا راتویته آرزوی موفقیت را در آینده نمود.



## د مهاجرینو چارو وزارت کې د پاکستان د بریدونو له امله له تازه بېځایه شویو سره د مرستې په اړه ناسته وشوه

د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت د دفتر رییس مولوي سعید احمد بنوري پر مشرۍ په یاد وزارت کې د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو د عالي کمېشنرۍ له مرستیالې اغلې ونیسا متر بولې او د دغې کمېشنرۍ د عملیاتي برخې له رییس ښاغلي عدن حاجي دکاني سره ناسته وشوه.
په دغې ناسته کې په تورخم فرضي کرښه کې د پاکستان د بریدونو له امله له زرګونو بېځایه شویو کورنیو او په کابل کې د هوایي برید د قربانیانو له کورنیو سره د مرستې په اړه خبرې وشوې.
ښاغلي بنوري د هغوی له همکاریو پر مننې د مرستو پر زیاتوالي، د پاکستان د بریدونو له امله د تازه بېځایه شویو د لومړیو ستونزو حلولو، د ظلم او په

جبري توگه د کډوالو د اېستلو مخنیوي او د هغوی له حقونو څخه پر ملاتړ ټینګار وکړ. د کمېشنرۍ له مسوولانو یې وغوښتل، چې په ګاونډیو هېوادونو کې د افغان کډوالو له حقونو هر اړخیز ملاتړ وکړي.

اغلې بولي د ننۍ ناستې موخه د پاکستان د بریدونو له امله له تازه بېځایه شویو سره مرسته یاده کړه او ویې ویل: دغه کمېشنرۍ په پام کې لري، چې له ګاونډیو هېوادونو څخه راستنو شویو ته نغدي، خوراکي او غیرخوراکي مرستې وړاندې کړي.

نومورې زیاته کړه، چې له خپلو همکارو موسسو سره به د مرستې موضوع شریکه کړي او هغوی به لا زیاتې مرستې ته وهڅوي.



## پنج تفاهم نامه همکاری در وزارت امور مهاجرین به امضا رسید

پنج تفاهم نامه های همکاری میان موسسات، (کمک های انسانی، بشردوستانه برای اقدام پایداردرافغانستان، مرکزتعلیمی زنان افغان، هاجرافغانستان ، دافغانستان پیاورتیا اواقلیم د نوشت ) و وزارت امورمهاجرین وعودت کننده گان به امضا رسید.

هدف ازامضای این تفاهم نامه ها، ایجادهماهنگی بهتر واجرای برنامه‌های مشترک در راستای خدمت رسانی مؤثر به بیجاشده گان و برگشت کننده گان می باشد .

این تفاهم نامه ها به ارزش ۳۱۸ هزار و ٦۴۱ دالر امریکایی ،۴۰۰ هزار دالر امریکایی، ۸۷ هزار و ٦٦۰ دالر امریکایی میباشد ، در بخش آموزش، فراهم سازی زمینه اشتغال و ارایه خدمات در خط فرضی تورخم برای ۸۴۰۲۳۰ تن برگشت کننده و بیجاشده ، توزیع کمک نقدی و حمایت از کسب و کار برای ۵۰۰ خانواده، و ۱۰۰ تن برگشت کننده، بیجاشده و جامعه میزبان آموزش، توانمند سازی اقتصادی و توزیع مواد غذایی در ولایات هرات ، ننگرهار، بلخ وکنر به مصرف میرساند.



## په مهاجرینو چارو وزارت کې د عامه اداري د وضعیت په اړه علمي څېړنیز پروګرام ترسره شو

د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت د غونډو په تالار کې د افغانستان اسلامي امارت د چارو اداري د ملکي خدمتونو د ریاست له لوري د افغانستان اداري وضعیت په اړه یو شمېر امرینو او مدیرانو ته یو ورځنی علمي څېړنیز پروګرام ترسره شو.

د ملکي خدمتونو استازي حامد عارض خبرې وکړې او د دغه وزارت کارکوونکو د ظرفیت لوړولو لپاره یې د ورته پرواګرامونو په ترسره کولو ټینګار وکړ.

نوموړي د عامه اداري د وضعیت په اړه څېړنه، په راتلونکي کې په هېواد کې د ډېرو خدمتونو وړاندې کولو په برخه کې مهمه وبلله او د ملکي خدمتونو اداري په همکارۍ او همغږۍ کې یې د ځنډ له مخنیوي ډاډ ورکړ.

په اخیر کې ګډونوالو ته د څېړنې فورمې وویشل شوې او د هغوی نظرونه او وړاندیزونه راټول شول.



## بیش از ۵۰۰ تن مهاجر پس از رهایی از زندان های پاکستان برگشت نمودند

۵۸۱ تن از افغان های مهاجر افغان محبوس از زندان های کشور پاکستان در هفته روان، رها و پس از آزادی به میهن برگشت نمودند. به اساس گزارش آمریت انتقالات مهاجرین ریاست امور مهاجرین و عودت کننده گان ولایت قندهار در سپین بولدک افراد یاد شده مدت یک روز الی ۲ ماه را دربند بودند که پس از ثبت در آن آمریت و دریافت مساعدت های بشری به محلات اصلی شان انتقال شدند.




## په ننګرهار کې له ۲٦٦ کورنیو سره مرسته وشوه

په ننګرهار کې ۲٦٦ کورنیو ته نغدي مرستې وویشل شوې.
د همکارو بنسټونو دغه مرستې ۳ میلیونه ۸۷۲ زره او ۹٦۰ افغانۍ وې، چې د ننګرهار د مهاجرینو ریاست تر پېژندولو وروسته له یادو کورنیو سره وشوې.
همدارنګه د کابل ښار په بېلابېلو ناحیو کې تر پېژندلو وروسته، د همکارو بنسټونو له لوري له ۷ زره او ۸۴۱ مستحقو کسانو سره د ۲۲ میلیونو ۷۳۸ زره او ۹۰۰ افغانیو مرستې وشوې.



## اتشه مهاجرین مقیم خیبر پختونخوا با شماری از نماینده گان تجار مهاجر دیدار کرد

اتشه مهاجرین افغان مقیم شهر پشاور پاکستان با شماری از نماینده گان تجار مهاجر به تاریخ ۵ حمل دیدار نمود.
هدف از دیدار، بررسی راه های مناسب برای انتقال اموال و دارایی‌ها، وضعیت بازرگانان، اخراج اجباری، فرصت ها و چالش های آنان بود.
طرفین درباره تسهیل روند انتقال اموال، حل مشکلات موجود و ایجاد هماهنگی‌های لازم میان نهادهای مربوطه بحث و تبادل نظر کردند.
نیازمحمد عارف اتشه مهاجرین از معافیت گمرکی اموال آنان اطمینان داده تأکید کرد که فراهم‌سازی زمینه انتقال امن و منظم اموال تجاران از موضوعات مهمی است که باید با همکاری مسئولان ذیربط عملی شود.
گفتنی است که دیدار فوق در راستای رسیدگی به مشکلات تجاران مهاجر افغان و حمایت از آنان در روند بازگشت و انتقال

## د هېواد په ۴ ولایتونو کې تر ۲ زرو زیاتو کورنیو سره بشري مرستې وشوې

روانه اونۍ په زابل، ننګرهار، لوګر او هلمند ولایتونو کې له ۲ زره ۴۸۴ بېځایه شویو، راستنو شویو او اړمنو کورنیو سره نغدي، خوراکي توکو، پخلنځي وسایلو او روغتیایي توکو مرستې وشوې.د معلوماتو له مخې، د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت د همکارو بنسټونو له لوري په زابل کې یو زرو ۳۲ کورنیو سره ۳۲۹ زره ٦۰۰ افغانیو، ۵ ډوله خوراکي توکو، روغتیایي کڅوړو او پخلنځي وسایلو، ننګرهار کې ۳۵۲ کورنیو سره د غیر خوراکي توکو او ۱۸۷ زره افغانیو، لوګر کې ۱۰۰ کورنیو سره ۵ ډوله خوراکي توکو او د روغتیایي کڅوړو، هلمند کې له زرو کورنیو سره ۴ ډوله خوراکي توکو مرستې وشوې.
همدارنګه د کابل ښار په بېلابېلو ناحیو کې د دغه ولایت د مهاجرینو چارو ریاست تر پېژندلو وروسته د همکارو بنسټونو له لوري ۵ زره ٦۷۹ اړمنو کسانو سره ۲۰ میلیونه ۹۰۹ زره افغانۍ مرسته وشوه.
له بېځایه شویو څخه ملاتړ او د هغوی بنسټیزو اړتیاوو ته رسېدنه د اسلامي امارت له لومړیتوبونو څخه دي.